# دَ صاحبزاده مولانا حامد الحق دَ دستاربندئ په موقع
# دَ حضرت شیخ الحدیث رحمة الله علیه یاد

اے زمونږ دَ زړهٔ قراره چرته یئ | خندهٔ رویه گلعذاره چرته یئ
څه دِ پټ دے نن په څومره حجابونو | دَ بنیٔ دَ باغ مالیاره چرته یئ
گلستان دِ په گلونو بیا سمسور دے | نازنینه حسنداره چرته یئ
نن مسند دِ دَ حدیث په انتظار دے | دَ محراب منبر وقاره چرته یئ
نن خورا شه تماشا دِ دَ باغ اوکړه | سرکړه پورته دَ مزاره چرته یئ
فضلاء دَ اجازت په طمع ناست دی | دَ اسناد دی امیدواره چرته یئ
په دستار دَ خپل نمسی باندِ لاس کښږده | نن فاضل شو جلوه داره چرته یئ

اے فانی دَ دعاګانو ځائے مو روک دے
صبر غواړه دَ غفاره چرته یئ

پیشکش دَ مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی
دَ زروبئ کلی